# د مشتاق مجروح یوسفزي ادبي خدماتو څیړنه
# Literary worth of Mushtaq Majrooh Yousafzai

Shariq Ahmad yousafzay *

Dr.Syed Zafar Ullah Bakhshali * *

ABSTRACT

This paper is about the critical and research work of Mushtaq Majrooh yousafzay who is famous among the Pashto poets and writers for his research books and critical ideas. He has written books on research, criticism and Pashto grammer. In criticism he has followed his mentor qalandar momand and kamil momand. He was the follower of the same school of thought. His language is simple and easily comprehensible for the readers.

**Key Word**: **Pashto poets, research, criticism and Pashto grammar**

وړاندې د دې نه چې د مشتاق مجروح یوسفزے د تحقیقي او تنقیدي زیار جائزه واخلو نبه به دا وي چې اول د تحقیق او تنقید په مطلب لوستونکي پوهه شي۔

تحقیق:

دَ تحقیق لغوي معنی دریافت کولو او تفتیش کولو ته وئیلے شي۔ ځینې پوهان وائي چې دَ تحقیق ماده دَ عربۍ ح ق ق "حقق" نه ده چې معنی ئې حق ثابتول یا حق طرف ته تلل دي۔ دَ حق معنی رښتیا وئیلو او حقیقت ته وئیلے شي نو په دې وجه دَ تحقیق معنی رښتیا او دَ حقیقت دریافت کول دي۔ په اردو کښې تحقیق، انګرېزۍ کښې Research او په پښتو کښې تحقیق یا څېړنه وئیلے شي۔

دَ اکسفورډ ډکشنرۍ مطابق تحقیق دَ یو حقیقت انکشاف کول دي چې په هغې کښې په منظمه توګه غور او فکر وشي یا دَ یو مضمون لوستو کښې تلاش یا چان بین وشي، ناقدانه نظر پرې واچولې شي او دا هر څۀ په سائنسي طریقه کار وشي۔

ویبسټر ډکشنري دَ تحقیق تعریف داسې کوي چې:

تحقیق یو محتاط تلاش کول دي دا یو قسم انکوائري یا تفتیش یا تجربه کول دي۔ په دې غرض چې رښتیا رامعلوم شي یا دَ مخکښې نه منظور شوې نظرئې ته دوام وبخښلے شي یا نوے قانون دَ نوے حقائقو په بنیاد جوړ شي۔

دَ تحقیق په حقله فضل میر خټک صاحب په خپل کتاب کښې لیکلي چې:

"سید عبدالله( مرحوم) لیکي چې دَ تحقیق لغوي معنی ده دَ یؤ شي حقیقت ښکاره کول، یا جوتول او یا دَ یؤ شي اثبات کول۔ یعنی یؤ شے رښتونے

* ایم فل سکالر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون مردان

* * اسسټنټ پروفیسر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون مردان

ثابتولـ خو پۀ اصطلاح کښې دا هغه مطالعه ده چې دَ څۀ مسلماتو پۀ رڼا
کښې دَ موجودو موادو رښتيا دروغ معلوموي۔ لکه تاريخ تحقيق کښې دَ
يوې واقعې پېښېدل يا نۀ پېښېدل کتې شي۔ " (۱)

لنډه دا چې تحقيق يؤ محتاط تلاش دے چې رښتيا معلوموي اؤ دَ دليل پۀ بنياد شک لرې کوي اؤ يقين ورکوي اؤ دا هر څۀ پۀ سائنسي طريقه کار باندې کېږي۔

تنقيد :

د تنقيد ټکے دَ عربۍ ټکي "نقد" نه راوتلے دے چې ډېرې معنې لري لکه جاج اخستل، معيارمعلومول، کره کوټه کتل، خوبۍ يا خامۍ پۀ ګوته کول، نغدول وغېره۔ پۀ انګرېزۍ کښې دَ دې دپاره Criticism ټکے استعمالېږي چې مطلب ئې عدل اؤ انصاف دے چې دَ يونانۍ نه اخستے شوے دے۔ پۀ پښتو کښې ورته جاج، کره کتنه اؤ تنقيد وئيلے شي۔ پۀ اصطلاح کښې دَ دې معنی پۀ صداقت اؤ غېر صداقت يعنې پۀ دروغو اؤ رښتياؤ کښې بېلتون کول دي۔

دَ تنقيد پۀ حقله مشتاق مجروح خپل خيالات داسې بيانوي:

"پۀ ادبي اصطلاح کښې تنقيد محاکمې ته وائي اؤ ادبي نقاد هغه چا ته
وائي څوک چې پۀ مخصوصو اصولو ادبي تخليقات څېروي۔ دَ دغو تخليقاتو دَ
خوبيو اؤ خرابيو اندازه لګوي اؤ بيا پرې يوه فېصله ورکوي خو پۀ تنقيدي ادب
کښې هغه ادب هم شامل دے پۀ کوم کښې چې څۀ فېصله نۀ وي شوې اؤ دغه شان
پۀ تنقيدي ادب کښې هغه ټول ليکل راځي کوم چې دَ ادب پۀ حقله ليکلے شوے
وي۔" (۲)

کۀ مونږ برني اقتباس ته وګورو نو مشتاق مجروح صاحب ډېره پۀ اسانه دَ تنقيد مطلب اؤ مفهوم واضح کړے دے۔ اؤ دغه رنګ لوستونکي پرې پۀ دې نتيجه رسي چې تنقيد مطلب پۀ ادبي فن پارو کښې ښۀ والے اؤ بد والے ښکاره کول دي اؤ بيا دَ دغو نکاتو پۀ رڼا کښې پرې يوه فېصله ورکول دي چې دا فن پاره تر کومه حده ښه يا بده ده۔

وئيلے شي چې دَ ادبي تنقيد ابتدا دَ يونان نه شوې ده ولې پۀ شعوري توګه دَ دې فن تيرۀ دَ عيسیٰ نه څلور سوه صدۍ مخکښې دَ افلاطون اؤ ارسطو پۀ لاس وشوه۔ دَ ارسطو کتاب Poetics الشعر يا شعريت وړومبے اؤ عظيم ترين تنقيدي دستاوېز دے۔ دَ ارسطو نه پس دَ رومن دَ ټولو نه لوے بل نقاد هوريس وۀ۔ دغه رنګ دَ اتلسمې پېړۍ پۀ نيو کلاسيکل تنقيد کښې دَ انګلستان درې دانشوران مشهور دي پوپ، ايډيسن اؤ ډاکټر جانسن۔ پۀ اردو کښې دَ تنقيد پۀ حواله د مولانا الطاف حسېن حالي " مقدمه شعروشاعري" يؤ اهم معلوماتي کتاب دے۔ دَ اردو پۀ نورو نقادانو کښې پروفېسر وقار عظيم، سيد عابد علي خان، عبادت برېلوي وغېره ښۀ نقادان دي۔

پۀ پښتو ژبه کښې اولنے تنقيد دَ روښاني ادب سره دَ تړلو عالمانو ، شاعرانو اؤ دَ اخون درويزه دَ مکتب سره منسوبو عالمانو شاعرانو له خوا شوے دے چې پښتو ادب ته ئې ډېره وده ورکړې ده۔ کله چې پښتو ادب دربم دور ته داخل شو نو خوشحال بابا پۀ خپل کلام کښې پۀ ځينو کتابونو اؤ شاعرانو رسا رسا ټکونه کړي دي۔ پۀ دستار نامه کښې هم ځائے پۀ ځائے دَ تنقيد ګلونه پۀ نظر راځي۔ دَ تنقيد پۀ حقله دَ قدر وړ کار چې چا کړے دے پۀ هغوي کښې مولانا عبدالقادر، محمد صديق روهي، عبدالحئ حبيبي، سحر يوسفزے، دوست

محمد خان کامل مومند، قلندر مومند، افضل رضا، صدیق الله رښتین، همېش خلیل، داور خان داؤد وغېره دَ پښتو ژبې ښۀ نقادان دي.

دَ دې نه علاوه ادبي جرګو او تنظیمونو او تنقیدي ټولنو هم دَ تنقید مېدان کښې دَ پښتو ژبې او ادب دَ قدر وړ خدمت کړے دے چې پۀ دغه ټولنو کښې بزم ادب، بزم سخن، بزم افکار، اولسي ادبي جرګه، دَ ساهو لیکونکیو مرکه او داسې نور دَ قدر وړ نامې دي.

مشتاق مجروح هم دَ پښتو پۀ دغه ادیبانو او نقادانو کښې یو ښکاره نوم دے چې دَ پښتو ادب پۀ مختلفو صنفونو او اړخونو ئې قلم چلولے دے. دَ نظم او نثر پۀ مېدانونو کښې خپل انفرادیت او اهمیت ښئیلے دے نو بل طرف ته ئې پۀ نثر کښې علمي، تحقیقي او تنقیدي لیکونه مخې ته راغلي دي. دَ مشتاق مجروح تحقیقي او تنقیدي مقالې وخت پۀ وخت پۀ مختلفو مجلو او رسالو کښې شائع شوي دي. دَ مشتاق مجروح دَ تنقیدي او تحقیقي شعور پۀ روزنه او پالنه کښې نۀ صرف دَ خارجي اثراتو لاس دے بلکې دَ هغۀ دَ خپلې وسیعې مطالعې، زرخېزه ذهن او فلسفیانه فکر خواږۀ شامل دي. مشتاق مجروح دَ تنقید دپاره پیدا شوے دے او زبردست تنقیدي شعور لري. هره خبره پۀ دلیل او بې دَ څۀ وېرې ترهې کوي. مشتاق مجروح دَ پښتو ادب پۀ تخلیقي، تحقیقي او تنقیدي درې واړو شعبو کښې ښۀ پۀ زړۀ پورې کار کړے دے. دَ هغۀ دَ تخلیقي کوششونو نۀ پس دلته دَ هغۀ پۀ تنقیدي او تحقیقي کارونو رڼا اچولے شي. مشتاق مجروح دَ انتقادي ادب پۀ پنګه کښې ډېره زیاته اضافه کړې ده. هغه دَ تنقید ماهر او دَ اوچتې پایې محقق دے. هغه پۀ ډېر منطقي انداز کښې دَ یو لیک غندنه یا ستائنه کوي چې مد مقابل دَ دۀ پۀ دلائلو ښۀ قائله او متفق شي. دَ تنقید سره سره دَ تحقیق پۀ فن کښې هم مشتاق مجروح دَ خپل دور پۀ مستندو محققینو او نقادانو کښې دَ خپل انداز فکر له برکته یو ډېر لوے نوم لري. مشتاق مجروح چې کوم تحقیقي او تنقیدي کتابونه لیکلي دي هغه دا دي:

1. زرکانړے
2. هذا ما کنزتم (نقد)
3. ساهو پښتو
4. مظلوم خوشحال
5. فضل نامه

زرکانړے

زرکانړے دَ مشتاق مجروح دویم کتاب دے چې پۀ نثر کښې لیکلے شوے دے او پۀ کال ۱۹۹۵ کښې چاپ شوے دے؛ او دَ تاج پرنټنګ پرېس پېښور نه چاپ شوے دے او پۀ اخري ځل پۀ کال ۲۰۱۹ کښې پۀ شپږم ځل دَ ځلان مومند دَ سریزې سره دَ قلندر مومند ریسرچ سیل له خوا چاپ شوے دے. دَ زرکانړي دا اوسنے اشاعت دَ نورو ټولو اشاعتونو نه یو پۀ دوه سبوا دے یعنې ډېر وسعت لري او دَ پخوا پۀ مقابله کښې دَ کتاب پۀ موادو او ضخامت کښې دوه چنده اضافه شوې ده او دَ هغو ادیبانو مشرانو پۀ مشورو باندې عمل شوے دے چې دَ وړومبی اشاعت نه پس مشتاق صاحب له ورکړې شوې وې. خبره دا ده چې خومره وضاحتونه، مثالونه، تشریحات او صنعتونه دې کتاب کښې پېش شوی دی، هغه هومره محنت دې نه وړاندې پښتو کښې بېخی پۀ نظر نۀ راځی. دَ نوی اشاعت اهمه خوبی دا هم ده چې دَ کلاسیکی شاعرانو سره پۀ کښې دَ موجوده دور دَ شاعرانو مثالونه وړاندې شوی دی بلکې دَ ځوان کُول دَ شاعرانه جوهر اندازه ترې هم لُستونکی لګولې شي.

دَ دې نه مخکښې هم پۀ دې موضوع کتابونه لیکلي شوي وو خو هغه دومره مفصل او مدلل نۀ وو لکه څومره چې دا کتاب دے. دا کتاب پۀ درېو برخو کښې وېشلے شوے دے. وړومبی برخه ئې "علم بیان" ده چې پۀ کښې دَ علم بیان پۀ موضوع ډېرې جامع خبرې شوې دي. دَ دې برخې عنوانات دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| فصاحت | بلاغت | تشبيه |
| استعاره | کنايه | مجاز مرسل |

دويمه برخه ئې دَ "علم بديع" ده. علم بديع کلام يا بيان کښې دَ لفظي ښکلا دَ اضافي باعث دي چې پۀ لفظي صنائع اؤ معنوي صنائع بللے شي. دي کښې عام طور صنائع، بدائع اؤ شعري محاسن بيانېږي.

دَ دي کتاب دريمه برخه " ادبي صنفونه" دي چې پۀ کښې دَ نظم اؤ نثر دواړو قسمونه اؤ صنفونه بيان شوي دي. اول پۀ کښې دَ نظم صنفونه بيان شوي دي لکه حمد ، نعت، مناجات، مرثيه، غزل، رباعي، نظم، مثنوي، قصيده، ټپه، لوبه، چاربېته اؤ نور ډېر صنفونه اؤ بيا دَ دي نه پس دَ نثر صنفونه بيان شوي دي لکه افسانه، ډرامه، ناول، تکل، خاکه، رپورتاژ، سفرنامه، مکتوب، نثري حکايت وغيره. دَ دي نه علاوه پۀ دي برخه کښې ادبي تنقيد اؤ دَ هغې پۀ قسمونو هم بحث شوے دے.

دا کتاب دَ موضوعاتو پۀ لحاظ يؤ ډېر جامع، علمي اؤ دقيق کتاب دے اؤ پۀ دي موضوع يؤ مکمل کتاب دے چې نۀصرف دَ پښتو ژبې اؤ ادب دَ طالب علمانو دپاره دَ استفادې باعث دے بلکې پښتو ادب سره مينه لرونکو دپاره هم ډېر زيات دَ اهميت جوګه دے. پۀ دي کتاب کښې دَ شعري اصنافو دَ تشريح اؤ تعريف پۀ لړ کښې دَ ګڼو کلاسيکي شاعرانو لکه خوشحال بابا، رحمان بابا، حميد بابا، علي خان، عبدالقادر خان خټک، کامګار خان خټک، اؤ يونس سره سره دَ ډېرو جديدو شاعرانو دَ کلام نمونې اؤ مثالونه ورکړې دي لکه حمزه بابا، قلندر مومند، سيد رسول رسا، رحمت شاه سائل وغيره شعرونه ورکړي شوي دي اؤ دَ دي نه علاوه پۀ کښې دَ ځوان کول دَ شاعرانو دَ کلام نمونې هم ورکړې شوي دي.

پۀ دي حقله ځلان مومند دَ زرکاڼے پۀ دويمه سريزه کښې ليکي چې:

> " دَ نوي اشاعت اهمه خوبي دا هم ده چې دَ کلاسيکي شاعرانو سره پۀ کښې دَ موجوده دور دَ شاعرانو مثالونه وړاندې شوي دي بلکې دَ ځوان کُول دَ شاعرانه جوهر اندازه ترې هم لُستونکی لګولې شی. دا خومره دَ خوشحالۍ خبره ده چې زمونږ ځوان کُول داسې ملغلرې لرې چې دَ صنعت ګرۍ پۀ هنر پوه دي حالانکې صنعت ګرۍ بې شانه سخت کار دے. دَ ځوان کُول دَ دغه هنر تراشلو اؤ روزلو داد کۀ مشتاق صاحب له ورنۀ کړو نو دا به سخته بې انصافي وی.
>
> دَ دي کتاب انداز دومره روان، سليس اؤ دلچسپ دے چې دَ يؤ کلاس روم ماحول پيدا کوی اؤ دَ لُستونکی مثال دَ هغه طالب علم دے چې ذهن ته ئې کوم سوال راشي نو راروانه کربنه کښې ئې مدلل ځواب موجود وی.(۳)

دَ دي کتاب دَ نوم اؤ دَ کتاب دَ اهميت پۀ حقله داور خان داؤد ليکي چې:

> " زرکاڼے دَ مشتاق مجروح يوه علمي اؤ تحقيقي مقاله ده چې پۀ دريو برخو وېش ده. اوله برخه ئې علم بيان، دويمه برخه علم بديع اؤ دريمه برخه ئې ادبي صنفونه دي. (زرکاڼے) يا محک هغه تور کاڼے دے چې زرګر پرې سرۀ زر ګوري، پۀ انګرېزی ژبه کښې ورته touch stone اؤ پۀ اردو

کښې ورته کسوټي وائي او افغانان ورونه ورته ازمېښت کانړے نوم هم اخلي.
دَ زرکاڼي اصطلاحي معنی دَ يوې فنپارې معيار معلومول او متعين کول
دي. هر کله چې فصاحت او بلاغت دَ يو تخليق معيار ګڼلے شي په دې وجه
مشتاق مجروح دَ خپلې مقالې نوم " زرکاڼے " غوره کړو چې ډېر ښۀ او ښکلے
نوم دے."(۴)

دَ دې کتاب دَ اهميت اندازه دَ دې نه لګېدې شي چې دا تر اوسه شپږ ځله چاپ شوے دے.
دا کتاب پېښور يونيورسټي او عبدالولي خان يونيورسټۍ کښې په ايم اے پښتو کښې شامل دے.
اوس اوس چې بي ايس شروع شوي دے نو دَ ټولې پښتونخوا دَ بي ايس پښتو په نصاب کښې هم
دا کتاب شامل دے. دَ پي ايم ايس او سي ايس ايس دَ امتحانونو دپاره هم دَ دې کتاب نه استفاده
کولے شي.

## هٰذا ما کنزتم

دَ مشتاق مجروح بل کتاب هٰذا کنزتم (نقد) (۱۹۹۷) دے. دا يو تحقيقي او تنقيدي کتاب دے چې په کال
۱۹۹۷ کښې دَ نومبر په مياشت کښې تاج پربس پېښور چاپ کړے دے. دا کتاب په ۷۲۸ صفحو مشتمل دے. دا
کتاب دَ "پټې خزانې" دَ حقيقت سره تعلق لري دَ دې کتاب نوم "هٰذا ماکنزتم (نقد)" تاريخي نوم دے چې دَ ابجدو په
حساب ترې ۱۴۱۸ هجرى راوځي. دَ دې لاندې "دَ پښتو يو تحقيقي او تنقيدى ليک" هم ليکلے شوے دے دَ هغې نه هم
دَ ابجدو په حساب دَ عيسوى کال ۱۹۹۷ اخراج کېږي.

"پټه خزانه" دَ پښتو شاعرانو يوه زړه تذکره ده چې محمد هوتک بن داؤد ته منسوب شوې او عبدالحئ حبيبي
مرتب کړې او چاپ کړې ده. کله چې دا تذکره چاپ شوه نو ډېرو عالمانو دې کښې دَ بې شمېره غلطو او ځينې نورو
وجوهاتو په بنا دَ دې په حقيقت او اصليت شکونه ښرګند کړل.

دَ پټې خزانې په رد کښې دَ ټولو نه وړومبے کتاب قلندر مومند دَ "پټه خزانه في الميزان" په نامه وليکلو. دَ
قلندر مومند په پټه خزانه لوے اعتراض دا وۀ چې دا دَ محمد هوتک تاليف نۀ دے بلکې اوسني دور کښې ليکلے شوے
او هغۀ ته منسوب شوے دے. قلندرمومند دَ خپلې دعوې په تائيد کښې په خپل کتاب "پټه خزانه فى الميزان" کښې
کافى دليلونه وړکړې چې تر ننه دَ ټولو دليلونو جواب نۀ دے شوے.

بيا همېش خليل دَ "پټه خزانه في الميزان" په جواب کښې "تول پارسنګ" نومے کتاب وليکلو. دَ همېش خليل
صاحب نه علاوه دَ افغانستان دوو ليکونکو په شريکه دَ قلندر مومند دَ کتاب جواب کښې "دَ پټې خزانې ميزان رښتيا
ميزان دے؟" نومے کتاب وليکلو.

دَ هميش خليل دَ " تول پارسنګ" جواب سيد محمود ظفر دَ " تله کښې پارسنګ" په نوم وکړو. دغسې دَ " تول
پارسنګ" او " دَ پټې خزانې ميزان رښتيا ميزان دے؟" دواړو کتابونو جواب مشتاق مجروح دَ "هٰذا ما کنزتم (نقد)" په
نوم زير بحث کتاب کښې وکړو. بيا دَ بلوچستان سره تعلق لرونکى نباغلى سعيد ګوهر مرحوم هم دَ پټې خزانې په رد
کښې "پټه خزانه فى الحقيقت" نومے کتاب وليکلو. دَ سعيد ګوهر دَ کتاب په جواب کښې همېش خليل دَ "حقيقت دا
دے" په نوم کتاب وليکلو. عبدالکريم بريالى دَ پټې خزانې په حمايت کښې دَ بره ذکر شوو کتابونو جواب ورکړو.
داور خان داؤد وائي:

"مونږ تر اوسه پورې دَ پټې خزانې په حقله دَ محققينو او ناقدينو
درې قسمه ډلو سره مخامخ کېږو. اوله ډله هغه ده چې پټه خزانه يو جعلي

کتاب ګڼي۔ دویمه ډله دي ته متنازعه یا مشکوک اثر وائي او دریمه ډله ئې
اصلي کتاب بولي. "(۵)

مشتاق مجروح هم په هاغه لیکونکو کښې د ے څوک چې "پټه خزانه" جعلي او مشکوک ګڼي۔ اوس دي زیرِ بحث ادبي تنازعې د ډله بازی شکل اختیار کړے د ے۔

داور خان داؤد د "هٰذا ما کنزتم (نقد)" متعلق خپله رائې داسې څرګندوی:

"نباغلی مشتاق مجروح په خپل اوسني تصنیف "هذا ماکنزتم نقد" کښې د همېش خلیل قلندر ته ورکړي شوي جوابونه رد کړي دي۔ په حقیقت کښې مجروح د قلندر دفاع ښه په منطقي ډول کړې ده۔(۶)

ځلان مومند د "هذا ماکنزتم نقد" په حقله وائي چې:

"هٰذا ما کنزتم (نقد)" او "ساهو پښتو" د پښتو تحقیق او تنقید ستني دی۔ اول الذکر کتاب کښې د پټې خزانې د دفاع جعلي او وضعي براهین په مستند و حوالو رد کړي شوي دي۔ د "هٰذا ما کنزتم (نقد)" د معتبر حیثیت دي نه لوئے ثبوت څهٔ کېدے شي چې یوویشت کاله پس هم د دغه کتاب تسلي بخش ځواب چا ونهٔ کړو حالانکې دا کتاب چې د کوم کتاب ځواب کښې لیکلے شوے وهٔ هغه تن اوس هم ژوندے دے او بله دا چې د پټې خزانې مدافعین خو اوس هم دومره لوئے تعداد کښې دی هغوی کښې هم څوک د کتاب ځواب کولو توان نۀ لري۔ د دي کتاب اهمه خبره دا ده چې د هري مقالې نوم د قرآن کریم د یو آیت مبارکه ټوکړه ده یا پُوره آیت دے۔ دا کار هم پښتو کښې وړاندې چا نۀ وۀ کړے۔ د کتاب ضخامت اووۀ سوو پاڼو نه زیات دے او انداز ئې عام فهم دے بلکې دا یو کتاب کۀ څوک ولولي نو دوو نورو کتابونو لوستلو ته به ئې حاجت نۀ وي۔ د مشتاق صاحب انداز د سلاست او عام فهمۍ عناصر لري، لفاظی او د علمیت بې جا اظهار په کښې ببخی نۀ وي۔ دوی مخکښې اعتراض ولیکی او بیا ئې د یوي یوي نکتې ترتیب وار ځواب ورکړي۔ دا کتاب په پټه خزانه مفصل فردِ جرم دے۔ دومره لویه موده وشوه چې دغه فردِ جرم چاپ شوے دے او مدافعین غلې دي نو مطلب هم دا شۀ چې د صحت جرم دوی انکار نۀ دے۔ د مشتاق صاحب دغه کتاب کښې د اصول تنقید مکمل خیال ساتلے شوے دے او هره خبره په دلیل او منطق بنیاد لري" (۷)

مشتاق مجروح د خپل دي کتاب په حقله لیکي چې:

"ما تر خپله وسه د همېش خلیل او د ځینو نورو هغو مدافعینو جوابونه کړي دي چې "پټه خزانه" معنوي هستي ګڼي او هېڅ یو علمي دلیل له اهمیت نۀ ورکوي او د ځینو نورو مدافعینو په جواب کښې د اشرف خان هجري دا یو شعر کافي ګڼم چې:

نـور قـابـل دَ يـادو نـۀ دي پـۀ دا ذيـل
نـۀ ئـي شـعـر سـنـجـيـده نـۀ دَ بـاور دے (۷)

## ساهو پښتو

دا دَ مشتاق مجروح بل تحقيقي او تنقيدي کتاب دے چې پۀ نثر کښې ليکلے شوے دے۔ دا کتاب پۀ کال ۲۰۱۲ کښې دَ قلندر مومند ريسرچ سيل پېښور نه چاپ شوے او خور شوے دے۔ دَ دے کتاب نوم "ساهو پښتو (تحقيق او تنقيد يوه جائزه)" دے چې دَ مجروح صاحب دَ نورو کتابونو دَ نومونو پۀ شان يو تاريخي نوم دے چې دَ ابجدو پۀ حساب ترې ۲۰۱۲عيسوي کال راوځي۔

دَ مشتاق مجروح دَ کتاب "ساهو پښتو" دَ ټولو نه لويه خوبي دا ده چې دا کتاب دَ موضوع دَ پيچيدګۍ باوجود دَ ژبې دَ روانۍ او سلاست شاهکار دے۔ دَ کتاب ژبه داسې خوږه او روانه ده چې نۀ صرف هغه خلق کوم چې دَ درس او تدريس يا ليک لوست سره تعلق ساتي بلکې دَ عامو خلقو دَ دلچسپۍ پۀ کښې هم خيال ساتلے شوے دے او دَ کتاب دَ موضوع نه عام اولس خبرول او پۀ دغه مسئله کښې دَ هغوي دلچسپي پيدا کولو پۀ خاطر مشتاق مجروح ځان ډېر دَ کړاو نۀ تېر کړے دے۔ دَ کتاب ژبه لکه څنګه چې مخکښې ووئيلے شول ډېره روانه، ساده او عام فهمه ده او ژبه ئې داسې استعمال کړې ده چې عام اولس دپاره هم او دَ ادب استاذانو او مئينانو دپاره هم يو شان افاديت لري۔

دا کتاب دَ (ساهو ليکونکيو مرکې) املا کښې ليکلے شوے دے يعني کومه املا چې به قلندر مومند صاحب ليکله البته مشتاق مجروح پۀ حروف تهجي کښې (نون غنه) زيات کړے دے او دَ نون نه پس ئې ورله ځائے ورکړے دے او ځينې نور ترميمات او ضروري اضافې ئې هم پۀ کښې کړې دي۔

دَ کتاب ژبه خوږه، عام فهمه او روانه ده دَ دے کتاب پۀ سريزه کښې ځلان مومند دَ مشتاق مجروح پۀ نثر او اسلوب بحث کوي او ليکي:

> "مشتاق صاحب ډېرو ځايونو کښې دَ عجز او انکسار اظهار کړے دے او داسې الفاظ ئې استعمال کړي دي چې دَ کسرِ نفسۍ ګمان پرې کېږي خو ډېرو ځايونو کښې بۀ پرې پوهه لوستونکي ورسي چې دغه کسرِ نفسي دَ عاجزۍ نه زيات دَ حېرت اظهار دے او ځينې ځايونو کښې خو طنز ښکاري ځکه چې دَ څۀ نشاندهي شوې ده نو هغه داسې غلطۍ دي چې عام تن پرې هم ښۀ پوهېږي چې داسې قسمه غلطيو باندې دَ عجز دَ اظهار نۀ بغير انسان څۀ وۀ وائي" (۹)

پۀ کال ۱۹۹۰ کښې دَ پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ له خوا دَ پښتو املا پۀ حقله باره ګلۍ کښې يو سيمينار وشو چې دَ ۱۰ جولائي نه تر ۱۲ جولائي پورې جاري وۀ دَ دغې سيمينار کومې فېصلې چې مخې ته راغلې نو هغې دَ پښتو املا زياتې مسئلې حل کړې خو دَ دې املا باره کښې دَ بعضې خلقو تحفظات وو ، دَ اکېډمۍ دَ واکمنو دَ وينا مطابق دا کار پۀ دې غرض شوے وۀ چې پښتانۀ پۀ يو ليک دود متفق کړي او دې سيمينار دغه کار تقريباً کړے وۀ. پۀ دې سيمينار کښې چې کومو خلقو شرکت کړے وۀ پۀ هغې کښې دَ افغانستان نه هم خلق رابللي شوي وو او دَ هغوي پۀ صلاح او مشوره باندې دَ باره ګلۍ دغه فېصلې شوې وې خو وروستو هغوي دَ دغو فېصلو نه منحرف شو ولې بيا هم ډېرو خلقو دغه دَ باره ګلۍ املا وۀ منله دَ املا متعلق چې دَ باره ګلۍ کومې فېصلې مخې ته راغلې وې دَ هغې پۀ حقله دَ مشتاق مجروح هم تحفظات وو لکه چې ليکي:

> "دَ املا متعلق چې دَ باره ګلۍ کومې فېصلې منظر عام ته راغلې وې دَ هغې پۀ حقله زما هم څۀ تحفظات وو خو هغه وخت مې ځکه پرې څۀ نۀ وئيل چې پښتو اکېډمۍ دا يو داسې کار تر سره کړے وۀ چې ضرورت او اهميت

> دواړه ئې لرل اؤ دَ پښتنو دَ خپل مرام پۀ لور سفر ئې رالنډولو ولې دا قسمه علمي کارونه داسې وي چې پۀ وخت توجه غواړي اؤ زما خپل خيال دا وۀ چې پښتو اکېډمي به خپل دا کوشش جاري ساتي اؤ راروانو وختونو کښې به دَ املا پۀ حقله هم دغسې سيمينارونه کوي اؤ چې کومې نوې مسئلې يا غلطۍ مخې له راځي، دَ هغې هوارے به کوي يا چې دغې سيمينار کښې څۀ نيمګړتيا پاتې شوې ده هغه به پوره کوي خو افسوس چې داسې هيڅ وۀ نۀ شو۔"(۱۰)

دَ پښتو دَ رسم الخط ابتدا دَ بايزيد انصاري (۹۲۷--۹۸۲ ) له وخته شوې وه۔ هغوي پۀ خپل کتاب (خېرالبيان) کښې دَ پښتو دَ هجې توري ښئيلي دي اؤ پۀ وړومبي ځل ئې دَ پښتو دَ مخصوصو توريو دپاره خپل شکلونه جوړ کړي دي اؤ دَ عربۍ اؤ فارسۍ حرفونه ئې هم ورسره شامل کړي دي۔ مطلب دا چې ځلور سوه شپېتۀ کاله وړاندې دَ پښتو ژبې دَ ليک دود دَ ارتقا عمل شروع شوے دے اؤ وخت پۀ وخت پۀ کښې عالمانو ترميمات اؤ اختراعات کړي دي خو دَ افسوس خبره دا ده چې پښتانۀ لا تر اوسه پورې پۀ يؤ ليکدود متفق شوي نۀ دي۔

پۀ دې کتاب کښې اول ښۀ پۀ تفصيل سره پۀ ليک دود اؤ املا بحث شوے دے دَ دې نه پس مشتاق مجروح دَ پښتو ليک دود اؤ املا پۀ ارتقائي سفر خبرې کړې دي۔ اول ئې دَ پير روښان پۀ املا بحث کړے دے اؤ بيا ئې دَ اخون درويزه بابا پۀ املا بحث کړے دے اؤ دَ دوي هغه حروف تهجي ئې دَ مثال پۀ توګه پېش کړي دي۔ دَ دې نه پس دَ خوشحال بابا پۀ املا خبرې شوې دي اؤ د خوشحال نه پس دَ افغانستان عالم وزير محمد ګل خان مومند پۀ کتاب (دَ پښتو ژبې لياره ) باندې هم تبصره شوې ده۔ دغسې چې تر ۲۰۱۲ پورې دَ پښتو املا باره کښې لره اؤ بره پښتونخوا کښې څومره فېصلې شوې دي هغه ټولې ئې پۀ دې کتاب کښې ورکړي دي۔ دَ دې نه پس پۀ دې کتاب کښې دَ باړه ګلۍ پۀ هغه اوولسو فېصلو بحث شوے دے اؤ دَ باړه ګلۍ پۀ سيمينار کښې چې کومو خلقو ګډون کړے وۀ دَ هغوي دَ نامو فهرست هم ورکړے شوے دے بلکې هغه بلنه هم پۀ کتاب کښې شامله ده۔ پۀ دے کتاب کښې مشتاق مجروح پۀ مختلفو ځايونو کښې دَ باړه ګلۍ سيمينار دَ تجاويزو حمايت هم کړے دے اؤ دا ئې هم لوستونکو ته مخې ته کړې دي چې پۀ باړه ګلۍ کښې کومې فېصلې شوې دي دا هم هغه فېصلې دي کومې چې پۀ کال ۱۹۵۷ کښې شوې وې اؤ دَ لر اؤ بر مشرانو دَ کافي غور اؤ فکر نه پس کړې وې۔ دَ باړه ګلۍ پۀ سيمينار کښې صرف دَ دغه فېصلو بحالي شوې ده۔ د باړه ګلۍ سيمينار صرف دا کار کړے وۀ چې يۀ ئې دَ پښتو معروفه (يا) غېر معروفه کړې وه اؤ شکل ئې ورله بدل کړے دے اؤ لاندې ئې څنګ پۀ څنګ ټکې ورته لګولې وو اؤ بل ئې دَ معدوله واؤ باره کښې غېر علمي بحث کړے وۀ۔ ځلان مومند دَ "ساهو پښتو" پۀ سريزه کښې دَ باړه ګلۍ د سيمينار پۀ حقله دا اعتراض کوي ليکي چې :

> " پۀ دې خبره دې څوک خفه کېږي نۀ اؤ کۀ خفه کېږي نو سم دې خفه شي، علمي اؤ اکادمياتي بحثونو کښې دَ چا دَ خفګان خيال نۀ شي ساتلے خو کۀ څوک اتفاق نۀ کوي بيا دې وۀ وائي چې تر اوسه دَ باړه ګلۍ دَ دغه سيمينار روداد پښتو اکېډمۍ ولې نۀ دے چاپ کړے اؤ کوم "ژبپوهان" ئې چې راغوښتې وو هغوي تر ننه ولې غلطه املا ليکي؟ " (۱۱)

دَ ساهو پښتو اهميت اؤ ضرورت :-

دَ باړه ګلې دَ سیمینار نه پس هم دَ پښتو حروفو صحیح استعمال اؤ دَ سمې املا لیکلو لاره پوره نۀ ده هواره شوې صرف یؤ "ڼ" عام شوے دے چې یؤ بنۀ کار شوے دے اؤ هم هغه دَ کال ۱۹۵۷ فیصلو ته رجوع شوي ده خو ولې اوس هم دَ "یاګانو" مسئله هغه شان ده اؤ ډېر لوئي لوئي لیکونکي ئې غلطې لیکي. پۀ باړه ګلې کښې چې دَ " یاګانو " کومه تشریح شوې ده هغه ډېره مجهوله اؤ ناقابل فهم ده. دَ یاګانو دَ صحیح لیکلو دپاره مشتاق مجروح پۀ خپل دے کتاب کښې دَ " یاګانو" پۀ حقله ډېر علمي بحث کړے دے اؤ دَ یاګانو دَ صحیح استعمال طریقه ئې لوستونکو تۀ وړاندې کړې ده.

دَ دې کتاب دَ ټولو نۀ لویه خوبي دا ده چې تر اوسه پورې پۀ پښتو املا ځومره اهم اؤ مقبول کار شوے دے اؤ پۀ دې موضوع ځومره کتابونه لیکلې شوي دي، هغه ټول کتابونه اؤ مقالې مشتاق مجروح دَ اولس مخې تۀ ایښې دي نۀ صرف دا چې اولس تۀ ئې پۀ ډاګه کړي دي بلکې دَ هغه ټول کار چې پۀ دې موضوع شوے وۀ دَ هغې جائزه ئې هم اخستې ده اؤ دَ جائزې سره سره ئې پۀ کښې دَ غلطو نشاندهې هم کړې ده اؤ خپل خیالات اؤ تجاویز ئې هم شریک کړي دي. علم لوئے دریاب دے اؤ انسان لا دغه دریاب نۀ دے عبور کړے، مشتاق مجروح پۀ دے کتاب کښې چې څۀ لیکلي دي اؤ پۀ کومه موضوع ئې بحث کړے دے نو هغه ئې ډېر پۀ علمي اؤ مدلل انداز کښې کړے دے اؤ دا هم وائي چې کۀ دَ چا اختلاف وي نو هغوي دې خپل دلائل پېش کړي کۀ ټیک وي زۀ به ئې ورسره وۀ منم دَ پیر روښان اؤ اخون درویزه بابا نۀ راوخله تر دې وخته پورې چې ځومره عالمانو پۀ دې موضوع کار کړے دے اؤ دَ خپل قوم لارښودنه ئې کړې ده، پۀ هغې کښې مشتاق مجروح هم دے چې دَ املا پۀ موضوع ئې دومره علمي کتاب لیکلے دے. صحیح املا لیکل دَ وخت ضرورت دے ولې پښتون هغه بدقسمته قوم دے چې لا تر اوسه پۀ پښتو املا متفق شوے نۀ دے.

مظلوم خوشحال

دا کتاب هم دَ مشـــتاق مجروح د نورو کتابونو پۀ شـان یؤ تحقیقي اؤ تنقیدي کتاب دے کوم چې پۀ کال ۲۰۱۹ کښې دَ قلندر مومند ریسرچ سـېل پېښـور نه چاپ شـوے اؤ خور شـوے دے. د دې کتاب د نوم نه معلومېږي چې دا د ســـتر خوشـــحال بابا پۀ حقله دے. د دې کتاب د لیکلو بنیادي وجه هغه تېروتنې دي کومې چې د خوشحال بابا د دیوان پۀ چاپ کولو کښې د خوشحال شناسو اؤ مرتبینو نه شوي دي. د دې کتاب اصـل موضـوع د ډاکټر یار مغموم صـاحب هغه کلیات دے کوم چې هغوي د یونیورسـټي بک ایجنسـۍ دپاره پۀ کال ۲۰۱۲ کښـې سره د فرهنګه چاپ کړے دے. پۀ دې کتاب کښـې هغه ټولې تېروتنې کۀ هغه د مرتبینو غلطۍ دي اؤ کۀ د مدونینو یا شـارحینو باندې بحث شـوے دے. د دې کتاب لیکلو بنیادي موضـوع د ډاکټر صاحب کلیات دے خو ولې پۀ دې کښې هغه غلطۍ هم پۀ ګوته شوي دي کومې چې د محترم کامل صاحب اؤ حبیبي صـاحب نه شوي دي خو چونکې د دې کتاب اصـل موضـوع د ډاکټر صـاحب کلیات دے نو زیاتره بحث اؤ تنقید د هغوي پۀ کار اؤ زیار شـــوے دے. د دې نه علاوه هر هغه ځا چې د خوشـــحال بابا پۀ حواله غلطۍ کړې دي نو پۀ دې کتاب کښـې ئې جائزه اخسـتې شـوې ده. تر دې مشـتاق مجروح د خپل اسـتاذ قلندر مومند تېروتنه اؤ خپله ذاتي سـهو ئې هم نظر انداز کړې نۀ ده. د دې نه د هغوي د غېر جانبدارۍ او محتاطۍ اندازه لګي.

ځلان مومند د مظلوم خوشحال پهـ مقدمه کښې لیکي چې:

"مغموم صاحب، قلندر صاحب یا کامل صاحب سره د ادبي فکر د
يؤ والي باوجود مشـــتاق صـــاحب چې د کوم جرات او دیانت داری اظهار
کړے دے په هغې دوي د مبارکي او د تحسـين اسـتحقاق لري خو دا خبره
دي هم د نظر لاندي ساتي چې دا لاره چې دوي خوښه کړي ده ډېره سخته ده
خو د قلندر صاحب د جانشين نه هم د دي توقع وه"(۱۲)

د دي نه علاوه په دي کتاب کښـې د خوشـحال بابا په حواله چې څومره مشـکلات اديبانو او طالبعلمانو ته پېښېدل هغه هم په دي کتاب کښې تسهيل شوي دي. د مشتاق مجروح صاحب د نورو کتابونو پـه شان د دي کتاب ژبه هم ساده عام فهمه او روانه ده او د لفاظۍ نه ئي کار نۀ دے اخستې. دا کتاب هم په ساهو املا کښې ليکلے شوے دے. په دي کتاب کښـې مجروح صـاحب ډېر په منظمه طريقه تنقيد کړے دے او د خوشـحال بابا د شـاعرۍ په هره برخه ئي ترتيب وار بحث کړے دے. لکه څنګه چې د ډاکټر صـاحب په کليات کښـې کوم ترتيب سـاتلے شـوے دے هم په هغه ترتيب پرې تنقيد شوے دے. د دي نه علاوه د دي کتاب په اخر کښې دموضوع پـه مناسبت سره دري نوري مقالې هم شاملې کړې شوي دي کومې چې مخکښې په مختلفو مجلو او رسالو کښې چاپ شوي دي.

## فضل نامه

فضل نامه دَ مشتاق مجروح يؤ بل اهم کتاب دے چې دَ قلندر مومند ريسرچ سيل نه په کال ۲۰۲۲ دَ جون په مياشت کښې چاپ شوے او خپور شوے دے . دا کتاب دَ مظلوم خوشحال کوم چې مجروح صاحب په کال ۲۰۱۹ کښې ليکلے وۀ دَ هغې دوېم جلد دے. د خوشحال بابا دا علمي اثر دَ ظاهر شينواري او غني شينواري دريافت دے او دَ هغوي په وساطت سره چاپ شوے دے او دغه رنګ هغوي دَ پښتو ژبې په وده کښې خپله ونډه اچولې ده او خپل حق ئي ادا کړے دے. دا هغه فضل نامه کومه چې دَ خوشحال بابا په کليات، ارمغان خوشحال وغيره کښې شامله ده دغه رنګ د خوشحال بابا فضل نامه ځان له هم دوه ځلې چاپ شوي ده په اول ځل دَ پېښور عجائب ګر مهتمم عبدالشکور خان صاحب په کال ۱۹۵۲ کښې چاپ کړې وه بيا وروستو ئي دوېم ايډيشن اداره اشاعت سرحد چاپ کړو. دا بنيادي طور د فقهي دَ مسئلو په حقله ده او خوشحال بابا په کښې ټوله اسلامي فقه په منظوم انداز کښې بيان کړې ده دا موجوده کتاب دَ انډيا آفس لائبريرۍ دَ نسخې نه تيار شوے دے. د دي مهم کتاب دَ بيا تدوين کولو په حقله مجروح صاحب په دي کتاب کښې دَ خپلې خبرې عنوان لاندي ليکي چې:

"دَ خان عليون مکان يؤ اهم تصنيف "فضل نامه" هم دے چې دَ کوشش
نه باوجود ما دَ دې قلمي نسخه دلته پيدا نۀ کړې شوه نو خپل ملګري ښاغلي ظاهر
شينواري سره مې رابطه وۀ کړه چې انډيا آفس لائبريرۍ لنډن کښې دَ فضل نامې
کومه نسخه ده دَ هغې فوټو کاپي ماته راوۀ لېږي. الله پاک هغوي په دے کوشش
کښې کامياب کړل او دَ قلمي نسخې فوټو کاپي ماته راورسېده دَ دغې نسخې نه
ما خپل کتاب "مظلوم خوشحال (اول جلد) کښې ډېره استفاده وۀ کړه ـ هم دغه
دوران کښې کښې ماته دا هم معلومه شوه چې دې قلمي نسخه کښې دَ چاپ شوي
فضل نامې نه شعرونه زيات دي او مطبوعه نسخو کښې غلطۍ هم ډېرې دي. دَ
هغې نه پس ښاغلي ظاهر شينواري او ګران ملګري څلان مومند دواړو مشوره
راکړه چې دا "فضل نامه" دې هم بيا تدوين او چاپ شي. ما دَ هغوي خبره وۀ منله او
دا قلمي نسخه مې دَ چاپ دپاره تياره کړه" (۱۳)

په دي برنې اقتباس کښې مجروح صاحب دَ دې دوباره تدوين او چاپ کولو وجه وۀ ښودله چې دَ دې نه مخکښې څومره ځله چې دا فضل نامه چاپ شوي وه خوا کۀ ځان له چاپ وه او کۀ دَ خوشحال بابا نوري شاعرۍ سره چاپ وه يؤ

خو پهٔ هغو کښې دَ فضل نامې شعرونه کم وو اؤ بله دا چې پهٔ دغه مطبوعه فضل نامه کښې غلطۍ هم ډېرې وې نو ځکه دَ دې کتاب دوباره چاپ کېدل نهايت ضروري وهٔ اؤ مجروح صاحب دغه شان دَ پښتو ادب دا سرمايه دَ اضافو سره پښتون اولس ته وړاندې کړې ده هسې خو فضل نامه ډېرې پېرې چاپ شوې وه خو پهٔ دې کښې يوه خامي يا غلطي دا وه چې پهٔ دې کښې څهٔ حصه دَ طب نامې وه اؤ دَ دې څهٔ حصه پهٔ طب نامه کښې چاپ وهاؤ چې چا هم تدوين کړې يا چاپ کړې وه نو هغوي دا کوشش نهٔ وهٔ کړې چې دَ دې شعرونه دَ يؤ بل نه بېل اؤ جدا کړي دَ مجروح صاحب دغه خبره هم پهٔ نظر کښې وه اؤ دغه رنګ ئې پهٔ دې فضل نامه کښې هغه حصه لرې کړې ده کومه چې دَ طب نامې سره تعلق لرې پهٔ دې حقله هغوي پهٔ دې مذکوره کتاب کښې ليکي چې:

> "ماسره چې دا وخت کومه نسخه ده دې کښې هم دَ طب نامې څهٔ برخه شته داسې ښکاري چې ټولو قلمي فضل نامو کښې دَ طب نامې څهٔ برخه وه ځکه چې چا هم چاپ کړې ده نو طب نامه ئې هم ورسره چاپ کړې ده دغسې "طب نامه" کښې چې دَ "فضل نامه" څهٔ برخه وه نو هغه ئې هم مولفينو دَ طب نامې سره چاپ کړې ده. پکار دا وه چې " فضل نامه " ځان اؤ "طب نامه" ځان له چاپ شوې وے خو داسې نهٔ دي شوي. لکه چې عرض وهٔ شو ما سره دَ "فضل نامه" قلمي نسخه کښې هم دَ طب نامې څهٔ برخه شته خو ما پهٔ کښې شامله نهٔ کړه ځکه چې دَ فضل نامې پاره کښې خان عليون مکان وئيلې دي چې :
>
> درسته فقه مې وئيلې
>
> ده پهٔ نظم مې پېيلې
>
> نو "طب نامه" پهٔ فقه کښې نهٔ راځي اؤ هر کله چې "طب نامه " دَ خوشحال بابا ځان له کتاب دے نو پکار ده چې دَ طب نامې دا برخه هغې کښې شامله کړې شي اؤ دَ فضل نامې برخه "فضل نامه" کښې شامله کړې شي. داسې به دواړه کتابونه دَ خپلې خپلې موضوع سره متعلق شي اؤ دَ کلام تکرار به هم ختم شي."(۱۴)

پهٔ دې کتاب کښې مجروح صاحب دَ دې دَ شعرونو موازنه دَ نورو وړاندينو فضل نامو سره کړې ده اؤ پوره حساب کتاب ئې کړے دے اؤ دَ ټولو فضل نامو شعرونه ئې هم درج کړي دي چې څومره فرق لري. دَ دغه حساب کتاب نتيجه هغوي داسې راوباسلې ده چې پهٔ دې فضل نامه کښې دَ نورو نه ۳۲۹ شعرونه زيات دي اؤ له دغې ترمخه دا يوه پوره فضل نامه ده مجروح صاحب نهٔ يوازې دا دوباره تدوين کړې ده بلکې پهٔ کښې ئې اضافه ، موازنه، تعليقونه اؤ ورسره ئې دَ ګرانو ټکيو فرهنګ هم ورکړے دے. لکه ښکاره چې دَ کتاب دَ نوم نه هم معلومېږي دَ دې کتاب نوم هم لکه دَ مجروح صاحب دَ نورو کتابونو پهٔ شان يؤ تاريخي نوم دے چې دَ ابجدو پهٔ حساب ترې ۲۰۲۲ عيسوي راوځي. دَ وفات نه مخکښې مجروح صاحب هم دَ دې کتاب پهٔ مقدمه کښې لګيا وهٔ اؤ لازما به ئې پهٔ کښې پهٔ دې حواله نور هم وضاحت اؤ تفصيل پېش کړے وې خو ژوند وفا ونهٔ کړه اؤ پهٔ کال ۲۰۲۱ کښې دَ عالمي وبا پهٔ وجه ئې دَ دې دنيا نه رحلت وکړو اؤ دغه شان ددې کتاب دا مقدمه نيمګړې پاتې شوه. اؤ هم دغه نيمګړې مقدمې سره دا فضل نامه چاپ شوې ده.

د مشتاق مجروح صاحب د نثر يوه خوبي دا هم ده چې هغوي لکه د زياتره اديبانو د لفاظۍ نه کار نهٔ اخلي اؤ پهٔ اسانو لفظونو کښې خپل مطلب بيانوي اؤ چې پهٔ کومه موضوع خبرې کوي نو ډېر تفصيلي بحث پرې کوي اؤ بعضې وخت داسې لګي چې مشتاق صاحب پهٔ سکول، کالج يا يونيورستۍ کښې ليکچر ورکوي اؤ د غټې نه غټه مسئله پهٔ ډېره اسانه حل کوي چې د اديبانو نه علاوه عام خلق يا ادبي استعداد نهٔ لرونکي پرې هم پوهه شي اؤ پکار هم داسې ده

چې ادب دې پهٔ اولس کښې خور کړے شي داسې نه چې ادب دې صرف د يؤ څو ادبي خلقو پورې محدود شي. ځينې وخت مشتاق مجروح صاحب د طنز غشي هم ورولي چې د تحقيق غندې سنجيده موضوع کښې هم د ځينې خلقو دپاره د مسکا باعث ګرځي.

غرض دا چې مشتاق مجروح يوسفزے د پښتو پهٔ نظم، نثر بې حسابه حق لري. د ادب پهٔ هر صنف کښې ئې خپل يؤ نهٔ ختمېدونکے چاپ پرېښے دے اؤ د تنقيد اؤ تحقيق دروازې ئې پرانستې دي اؤ تر څو چې د پښتو ژبې مئينان، اديبان اؤ لوستونکي موجود وي نو د مشتاق مجروح نامه به د يوې ادبي ادارې پهٔ حېث اخستې شي.

## حوالې:


1. فضل مير خټک، فضليات صفحه ۱۰۴ ، چاپ کال ۱۹۹۹ ، کتابت محمد رسول (پښتو اکېډمي)
2. مشتاق مجروح يوسفزے، زرکاڼے، صفحه ۳۹۵،۳۹۲، چاپ کال ۲۰۱۹، اېډيشن شپږم خورونکے قلندر ريسرچ سيل پېښور.
3. ځلان مومند ، زرکاڼے، صفحه۲۱،اشاعت پينځم، چاپ کال ۲۰۱۸، خوروونکے قلندر مومند ريسرچ سېل.
4. داور خان داؤد ،زرکاڼے، صفحه ۱۲/۱۱، اشاعت پينځم، چاپ کال۲۰۱۸، خوروونکے قلندر مومند ريسرچ سېل.
5. داور خان داؤد ،"قلندرمومند"، صفحه۳۲، چاپ کال ۲۰۰۰، چاپ ځائے، تاج پرنټنګ پرېس پېښور.
6. داور خان داؤد، "قلندرمومند"، صفحه۳۴، چاپ کال ۲۰۰۰، چاپ ځائے، تاج پرنټنګ پرېس پېښور.
7. ځلان مومند سره انټرويو ،اتوار ورځ، ۲۲جولائي۲۰۱۸.
8. مشتاق مجروح، "هذا ماکنزتم"، صفحه (ط)، چاپ کال نومبر۱۹۹۷،چاپ ځائے تاج پرېس پېښور.
9. ځلان مومند ،"ساهو پښتو"، صفحه۲۱، چاپ کال ۲۰۱۲، خوروونکے قلندر ريسرچ سېل.
10. مشتاق مجروح، "ساهو پښتو"، صفحه ۳۲، چاپ کال ۲۰۱۲، خوروونکے قلندر ريسرچ سېل پېښور
11. ځلان مومند ،ساهو پښتو،صفحه۱۱ ،چاپ کال ۲۰۱۲، خوروونکے قلندر مومند ريسرچ سېل پېښور
12. ځلان مومند ،مظلوم خوشحال،صفحه ۲۲، ۲۷، چاپ کال دسمبر ۲۰۱۹، خوروونکے قلندر مومند ريسرچ سېل پېښور
13. مشتاق مجروح يوسفزے، فضل نامه دَ خوشحال خان خټک، صفحه ۳، چاپ کال جون ۲۰۲۲، خورونکے قلندر مومند ريسرچ سيل پېښور
14. مشتاق مجروح يوسفزے، فضل نامه دَ خوشحال خان خټک، صفحه ۵ ، چاپ کال جون ۲۰۲۲ ، خورونکے قلندر مومند ريسرچ سيل پېښور